# دَ تِسالونیکانو په نُوم دَ پولوس رسُول اول خط

## سلام

١ ١ دَ پولوس، سیلوانوس اَؤ دَ تیموتیوس له طرف نه، دَ تِسالونکیانو دَ جماعت په
نُوم چه دَ خُدائے پلار اَؤ دَ مالِک عیسیٰ دے، فضل اَؤ سلامتی دِ تاسو ته حاصله وی.

## دَ تِسالونیکیانو دَ ایمان نمُونه

٢ ستاسو ټولو په حقله مُونږ همیشه دَ خُدائے شکر کوُو اَؤ په خپلو دُعاګانو کښے
تاسو یادوُو، ٣ اَؤ دَ خپل خُدائے پلار په حضُور کښے هر وخت یاد ګیرنه کوُو چه
څنګه ستاسو دَ ایمان دَ کار، دَ مینے دَ خوارئ، اَؤ دَ اُمید په صبر کښے زمُونږ په مالِک
عیسیٰ مسیح کښے مظبُوطیږئ. ٤ اَئے ورُوڼو! مُونږ ته دا معلُومه ده چه خُدائے
تاسو سره مینه لری اَؤ هغهٔ تاسو دَ خپل ځان دَ پاره غوره کړی یئ. ٥ ځکه چه زمُونږ
زیرے نهٔ یواځے تاسو ته په لفظی طور در رسیدلے دے بلکه دَ قُدرت اَؤ رُوحُ القُدس اَؤ
په پُوره یقین سره. نو تاسو ته معلُومه ده چه هر کله چه مُونږ تاسو سره وُو نو مُونږ
ستاسو دَ خاطره څنګه ژوندُون تیر کړے وو. ٦ اَؤ تاسو په ډیر تکلیف دَ رُوحُ القُدس
په خوشحالئ کښے کلام قبُول کړو اَؤ زمُونږ اَؤ دَ مالِک پیروی مو وکړله، ٧ بلکه تر
دے چه دَ مِکدونیه اَؤ اخیه ټولو ایماندارانو له په طور دَ نمُونے شوئ. ٨ ځکه چه
ستاسو له طرفه نهٔ یواځے په مِکدونیه اَؤ په اخیه کښے دَ مالِک کلام خور شو بلکه
ستاسو ایمان چه په خُدائے دے په هر ځائے داسے مشهُور شوے دے چه زمُونږ دَ
وینا څهٔ حاجت په کښے نِشته. ٩ ځکه چه هغوئ په خپله زمُونږ ذکر کوی چه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو په طرف زمُونږ راتلل څنګه وُو، تاسو دَ بُتانو نه راواؤړيدئ اَؤ خُدائے ته
راوګرزيدئ، دَ دے دَ پاره چه دَ ژوندی اَؤ حقيقی خُدائے عبادت وکړئ، ۱۰ اَؤ دَ هغۀ دَ
زوئے دَ آسمان نه دَ راتلو په اِنتظار اوسئ چه هغه ئے له مړو نه ژوندے کړے دے،
يعنے عيسىٰ چه مُونږ به دَ راتلُونکی غضب نه بچ کړی.

## په تِسالونيکيه کښے دَ پولوس خدمت

۲ ۱ اَئے ورونړو! تاسو په خپله پوهه يئ چه تاسو ته زمُونږ راتلل بے فائدے نۀ شول.
۲ بلکه تاسو ته معلومه ده چه سره دَ دے چه اول مو په فيليپی کښے تکليفُونه تير
کړل اَؤ بے عزته کړے شوی وُو، خو بيا هم مُونږ ته په خپل خُدائے کښے دا زړه ورتيا
حاصله شوه چه دَ خُدائے زيرے په ډير اِخلاص تاسو ته واؤرُوو. ۳ ځکه چه زمونږ
نصيحت نۀ په ګمراهئ دے، نۀ په ناپاکئ اَؤ نۀ په فريب، ۴ بلکه څۀ رنګ چه خُدائے
مُونږ قبُول کړُو اَؤ زيرے ئے مُونږ ته وسپارلو، دغسے ئے مُونږ بيانوُو هم، نۀ چه دَ بنی
آدم دَ خوشحالولو دَ پاره بلکه دَ خُدائے، چه زمُونږ دَ زړُونو آزميښت کوی. ۵ ځکه
چه تاسو ته په خپله معلومه ده اَؤ خُدائے هم ګواه دے چه نۀ خو مُونږ په کلام کښے
چرے خوشامنده کړے ده اَؤ نۀ مو دَ حرص پرده پرے اچولے ده. ۶ اَؤ نه خو مُونږ
دَ خلقو نه دَ عزت طمع لرله، نه ستاسو نه، اَؤ نه دَ بل چا نه. ۷ اګر چه دَ مسيح دَ
رسُولانو په طور په تاسو بوج اچولے شُو، خو څۀ رنګ چه مور خپل بچی ساتی، دغه
شان مُونږ هم په تاسو کښے ډير په نرمئ اوسيدلی يُو. ۸ اَؤ هغه رنګ مُونږ ستاسو
دومره مُشتاق شوُو چه نۀ يواځے دَ خُدائے زيرے بلکه خپل ځان مو هم ستاسو دَ
خاطره ورکولو، دَ دے دَ پاره چه تاسو په مُونږ ډير ګران وئ. ۹ اَئے ورُونړو! تاسو ته
به زمُونږ خواری اَؤ کړان ياد وی چه مُونږ په تاسو دَ نۀ بوج کيدو په خاطره شپه اَؤ ورځ
محنت کاوو چه تاسو ته مو دَ خُدائے زيرے آؤروو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٠ تاسو ګواه يئ اَؤ خُدائے دِ هم ګواه وی چه تاسو سره چه ايمان راؤړو مُونږ څنګه
په پاکوالئ، راستئ اَؤ دَ بے عيبئ سلوک کړے وو. ١١ نو تاسو ته معلُومه ده چه لکه
څنګه چه پلار خپلو بچو ته نصيحت کوی، دغه شان به مُونږ هم په تاسو کښے هر يو ته
نصيحت کاوو، ١٢ تسلی به مو درکوله اَؤ پوهولئ به مو، دَ دے دَ پاره چه ستاسو چلن
خُدائے خوشحالوی څوک چه تاسو خپلے بادشاهئ اَؤ جلال ته رابلی.

١٣ دَ دے دَ پاره مُونږ هم هر وخت دَ خُدائے شکر کوُو چه هر کله دَ خُدائے پيغام
زمُونږ په معرفت تاسو ته دروررسيدو نو تاسو هغه دَ بنی آدمو دَ کلام په شان نه، بلکه
څنګه چه په حقيقت کښے دے، دَ خُدائے کلام مو وګڼلو اَؤ قبُول مو کړو، اَؤ په تاسو
کښے چا چه ايمان راؤړو، په هغوئ کښے ئے تاثير هم وکړلو. ١۴ اَئے ورونړو! تاسو
دَ خُدائے دَ هغه جماعتُونو په شان شوئ کُوم چه په يهُوديه کښے دَ عيسیٰ مسيح دی،
ځکه چه تاسو هم دَ خپل قام دَ خلقو نه هغه تکليفونه وزغمل کُوم چه هغوئ ته دَ يهُوديانو
نه رسيدلی وُو، ١۵ چا چه مالِک عيسیٰ اَؤ نبيان ئے هم ووژل اَؤ مُونږ ئے ربړولی يُو.
هغوئ دَ خُدائے خوښ نهٔ دی اَؤ دَ ټولو خلقو مُخالف دی. ١۶ ځکه چه هغوئ مُونږ غير
يهُوديانو ته دَ خلاصُون پيغام دَ آؤرولو نه منع کوی دَ دے دَ پاره چه دَ هغوئ دَ ګُناهُونو
اوړے هميشه ډک وی، لا دا چه آخر غضب پرے نازل شو.

## دَ پولوس دَ جماعت بيا مُلاقات کولو خواهش

١٧ اَئے زما ورُونړو! کله چه مُونږ دَ لږے مُودے دَ پاره په جسمانی طور له ستاسو نه
بيل شُو اَؤ نهٔ په زړهٔ، نو مُونږ ډير په تلوسه ستاسو دَ بيا ليدلو نور هم کوشِش وکړو. ١٨
دَ دے دَ پاره مُونږ، يعنے ما پولوس بيا بيا تاسو ته راتلل غوښتل خو شيطان زما لار
ونيوله. ١٩ زمُونږ اُميد اَؤ خوشحالی اَؤ دَ فخر تاج څهٔ دے؟ آيا هغه زمُونږ دَ مالِک
مسيح په وړاندے دَ هغه دَ راتلو په وخت به تاسو نهٔ يئ څهٔ؟ ٢٠ زمُونږ جلال اَؤ زمُونږ
خوشحالی خو هم تاسو يئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ٣

١ دَ دے دَ پاره کله چه مُونږ نوره جُدائی برداشت نۀ کړے شوه نو په اتينے
کښے مو يواځے پاتے کيدل خوښ کړل، ٢ اَؤ تيموتيوس زمُونږ ورور اَؤ دَ مسيح په
زيری کښے دَ خُدائے خادم مو دَ دے دَ پاره درواستولو چه هغه تاسو مظبُوط کړی اَؤ
ستاسو دَ ايمان په حقله تاسو له تسلی درکړی، ٣ چه دَ دے مُصيبتُونو په وجه څوک
ونۀ ويريږی، ځکه چه تاسو په خپله پوهه يئ چه مُونږ دَ دے دَ پاره مقرر کړی شوی يُو.
٤ بلکه اول هم چه مُونږ تاسو سره وُو نو تاسو ته به مو وئيل چه مُونږ به تکليفُونه
وزغمُو، نو هغسے وشوه اَؤ تاسو ته هم معلُومه ده. ٥ دَ دے دَ پاره هر کله چه ما نور
زيات برداشت ونۀ کړے شو نو ستاسو دَ ايمان دَ حال معلُومولو دَ پاره مے تيموتيوس
درواستوو چه هسے نه چه شيطان تاسو آزمائيلے يئ اَؤ زمُونږ محنت بے فائدے شی.

٦ خو اوس چه تيموتيوس له تاسو نه بيرته راغے اَؤ ستاسو دَ ايمان اَؤ دَ مينے ښے
خبرے ئے راوړے، اَؤ مُونږ ته ئے ووے چه تاسو تل زمُونږ خير غواړئ اَؤ زمُونږ دَ
ليدو داسے په تلوسه يئ لکه چه مُونږ دَ ستاسو، ٧ نو ائے وروڼو! مُونږ دَ خپل ټول
کړاؤ اَؤ مُصيبت سره ستاسو دَ ايمان په وجه تسلی ومُونده. ٨ ځکه چه که اوس تاسو
دَ مالِک په يووالی کښے قائم يئ نو مُونږ به تسلی يُو. ٩ ستاسو په وجه دَ خپل خُدائے
په وړاندے چه مُونږ ته څومره خوشحالی حاصله ده، دَ هغے په بدل کښے مُونږ ستاسو
په باب څنګه په ښۀ شان سره دَ خُدائے شکر کولے شُو؟ ١٠ مُونږ شپه اَؤ ورځ ډيره
دُعا کوُو چه تاسو ووينو اَؤ ستاسو دَ ايمان کمے پُوره کړو.

١١ اوس زمُونږ خُدائے اَؤ پلار په خپله اَؤ زمُونږ مالِک عيسىٰ مسيح دِ ستاسو په طرف
زمُونږ لار سمه کړی. ١٢ اَؤ مالِک دِ داسے وکړی چه څنګه چه زمونږ تاسو سره مينه
ده، داسے دِ ستاسو په خپلو کښے يو تر بله مينه لرئ، اَؤ دَ ټولو خلقو سره دِ هم
زياتيږی اَؤ لوئيږی، ١٣ دَ دے دَ پاره چه ستاسو زړُونه دِ داسے مظبُوط کړی چه کله
چه زمُونږ مالِک عيسىٰ دَ خپلو پاکانو سره راشی نو هغه زمُونږ دَ خُدائے اَؤ پلار په
وړاندے په پاکوالی کښے بے عيبه وګرزی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ خُدائے دَ خوشحالولو ژوندُون

۴ ۱ لنډه دا چه اَئے ورُوڼو! مُونږ تاسو ته دا خواست کوُو اَؤ دَ مالِک عیسیٰ په نُوم
تاسو ته نصیحت کوُو چه څۀ رنګ چه تاسو زمونږ نه دَ مُناسب چال چلن اَؤ دَ خُدائے
دَ خوشحالولو تعلیم مُوندلے وو اَؤ څنګه چه تاسو چلن کوئ هم هغسے دِ ترقی ومُومئ.
۲ ځکه چه تاسو پوهیږئ چه مُونږ تاسو ته دَ مالِک عیسیٰ دَ طرفه څۀ حُکمُونه
دررسولی دی. ۳ نو دَ خُدائے دا مرضی ده چه تاسو پاک شئ، یعنے دَ حرامکارئ نه
ځان وساتئ. ۴ اَؤ په تاسو کښے دِ هر یو خپل وجُود په پاکوالی اَؤ عزت سره په قابُو
کښے ساتل زده کړی، ۵ نۀ دَ شهوت دَ جوشه دَ هغه قومُونو په شان چه خُدائے نۀ
پیژنی. ۶ ځکه دَ ښځے اَؤ سړی په معامله کښے یو سړے دِ هم خپل ورور سره په
دے اَمر کښے زیاتے اَؤ ټګی ونۀ کړی، ځکه چه مالِک دَ دے ټولو کارُونو بدله
آخستُونکے دے، ځکه خو مُونږ تاسو ته اول هم خبردارے درکړے وو. ۷ خُدائے
پاک مُونږ دَ ناپاکئ دَ پاره نه، بلکه دَ پاکوالئ دَ پاره رابللی یُو. ۸ نو چه څوک دا نۀ
منی، هغه اِنسان نه، بلکه خُدائے نۀ منی چه تاسو له خپل رُوحُ القُدس درکوی.

۹ خو دَ وروروَلئ په مینه تاسو ته دَ څۀ لیکلو حاجت نِشته ځکه چه تاسو په خپلو
کښے دَ مینے تعلیم دَ خدایه مُوندلے دے چه یو بل سره مینه لرئ. ۱۰ اَؤ دَ مِکدونیه دَ
ټولو ایماندارانو سره هم مینه لرئ. مګر اَئے ورُوڼو! مُونږ تاسو ته دا نصیحت کوُو چه په
مخه ترقی کوئ ۱۱ اَؤ څنګه چه مُونږ تاسو ته حُکم درکړے دے، په قلاره اوسئ اَؤ په
خپل کار کښے مشغُول اَؤ په خپلو لاسُونو دَ محنت کولو په کسب کښے همت کوئ.
۱۲ دَ دے دَ پاره چه دَ غیر ایماندارانو سره دَ سړیتوب سلُوک کوئ اَؤ دَ هیچا مُحتاج
مۀ شئ.

## دَ مالِک راتلل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ اَئے ورُوڼو! مُونږ دا نۀ غواړُو چه دَ هغوئ په باب کښے چه مړۀ کيږی تاسو بے
خبره پاتے شئ، دَ دے دَ پاره چه دَ نورو په شان چه نا اُميده وی، تاسو غمژن مۀ شئ.
۱۴ ځکه چه مُونږ ته دا يقين دے چه عيسیٰ مړ شو اَؤ بيا ژوندے شو، نو دغه شان به
خُدائے هغه څوک هم چه دَ عيسیٰ په ايمان کښے مړۀ شو ی دی، دَ عيسیٰ په وسيله دَ
هغۀ سره راولی.

۱۵ ځکه مُونږ تاسو ته دَ مالِک دَ کلام په مُطابق وايُو چه مُونږ څوک چه ژوندی يُو اَؤ دَ
مالِک تر راتلو پورے به پاتے شُو خو دَ مړ شوو نه به هيڅ کله هم وړاندے کيږو نه. ۱۶
ځکه چه مالِک به په خپله دَ آسمان نه دَ چغے، اَؤ دَ مُقربے فرښتے دَ آواز، اَؤ دَ
خُدائے دَ بګل دَ آواز سره راکُوزيږی، اَؤ اول به هغه څوک چه په مسيح کښے مړۀ
شوی دی راژوندی شی. ۱۷ اَؤ بيا به مُونږ څوک چه ژوندی پاتے يُو، دَ هغوئ سره په
وريځو کښے پورته کړے شُو دَ دے دَ پاره چه په هوا کښے دَ مالِک اِستقبال وکړُو، اَؤ
دغه شان به دَ مالِک سره تل تر تله اوسُو. ۱۸ نو تاسو په دے خبرو يو بل له تسلی
ورکوئ.

## ۵

۱ نو اَئے ورُوڼو! دَ دے خبرے هيڅ حاجت نِشته چه دَ وختُونو اَؤ دَ موقعو په
بابت تاسو ته څۀ وليکلے شی، ۲ ځکه چه تاسو په خپله په دے ښۀ پوهيږئ چه دَ
مالِک دَ راتلو ورځ دغه شان راتلُونکے ده لکه چه دَ شپے غل راځی. ۳ څۀ وخت چه
به خلق وائی چه "سلامتيا اَؤ امن دے" هم هغه وخت به په دوئ دغه شان ناڅاپی
هلاکت راشی لکه اُميدواره ښځه چه په دردونو کښے شی، اَؤ هغوئ به هيڅ کله بچ نۀ
شی. ۴ خو تاسو اَئے ورُوڼو! په تيارۀ کښے نۀ يئ چه هغه ورځ به په تاسو په حيرانتيا
لکه دَ غل راشی. ۵ ځکه چه تاسو ټول دَ نُور اَؤ دَ ورځے يئ، مُونږ نۀ دَ شپے يُو اَؤ نۀ
دَ تيارے. ۶ نو دَ نورو په شان اُوده پاتے نۀ شُو بلکه ويښ اَؤ بيدار اوسُو. ۷ ځکه
چه څوک چه اُودۀ کيږی هغه په شپه کښے اُودۀ کيږی، اَؤ څوک چه نشه کيږی هغه په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شپه کښې نشه کېږی. ۸ خو مونږ چه دَ ورځې يُو مونږ بايد بيدار اوسُو، اَؤ دَ ايمان
اَؤ دَ مينې زغره آغوستې اَؤ دَ خلاصون دَ اُميد ټوپئ په سر کړُو. ۹ ځکه چه خُدائے
مونږ دَ غضب دَ پاره نه، بلکه دَ دے دَ پاره مُقرر کړی يُو چه مونږ دَ خپل مالِک عيسیٰ
مسيح په وسيله خلاصُون بيا مُومُو. ۱۰ اَؤ هغه زمونږ دَ خاطره ځکه مړ شو چه که
مونږ بيدار يُو يا که اُودهٔ، ټول دَ هغهٔ سره ژوند تير کړُو. ۱۱ نو تاسو يو بل ته تسلی
ورکړئ اَؤ دَ يو بل دَ ترقئ سبب جوړ شئ، اَؤ بے شکه چه تاسو داسې کوئ هم.

## آخری نصيحتُونه

۱۲ اَؤ اَئے ورُونړو! مونږ تاسو ته خواست کوُو، څوک چه په تاسو کښې خواری کوی
اَؤ په مالِک کښې تاسو ته لار ښوُونکی وی اَؤ تاسو ته نصيحت کوی دَ هغوئ قدر کوئ.
۱۳ اَؤ دَ هغوئ دَ کار په سبب په مينه دَ هغوئ عزت کوئ، اَؤ په خپلو کښې صُلح
لرئ.

۱۴ اَؤ اَئے ورُونړو! مونږ درته دا نصيحت کوُو چه سُستو خلقو ته خبردارے ورکوئ،
کم همتو ته دلاسه ورکوئ اَؤ کمزوری راټينګوئ، ټولو سره زغم کوئ. ۱۵ ګورئ چه
څوک دَ بدئ په بدله کښې بدی ونهٔ کړی بلکه هميشه په نيکئ پسې ګرزئ، دَ يو بل سره
اَؤ دَ نورو سره هم.

۱۶ هر وخت خوشحاله اوسئ. ۱۷ په دعا کښې ناغه مه کوئ. ۱۸ اَؤ په هر حال
کښې شکر کوئ ځکه چه په عيسیٰ مسيح کښې ستاسو په حقله دَ خُدائے دغه رضا
ده.

۱۹ دَ رُوحُ القُدس دَ اثر لرے کولو کوشِش مهٔ کوئ. ۲۰ دَ نبوتُونو سپکاوے مه کوئ.
۲۱ ټولے خبرے آزمیئ اَؤ چه کُومے خبرے ښے وی هغه راټينګوئ. ۲۲ دَ هر قِسم
بدئ نه ځان ساتئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ خُدائے چه دَ سلامتئ سر چینه دے تاسو دِ په خپله بلکل پاک کړی، اَؤ ستاسو
رُوح اؤ ځان اَؤ تن دِ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح تر راتلو پورے پُوره بے عیبه وساتی.
۲۴ ستاسو رابلُونکے ربښتُونے دے، هغه به هم دغسے کوی.

۲۵ اَئے ورُونړو! زمُونږ دَ پاره دُعا کوئ.

۲۶ په پاکه مینه یو بل ښکل کړئ اَؤ ټولو ورونړو ته زمُونږ سلام ووایئ.

۲۷ زَهٔ تاسو ته دَ مالِک په نُوم حُکم درکوم چه دا خط ټولو ورُونړو ته واؤروئ

۲۸ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل دِ تاسو سره وی.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.